**د خپل ځان او د نړۍ سره سوله**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« واللهُ يَدْعُو إِلَى دَارِ السَّلامِ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ »ژباړه:« و الله تاسي ته د سلامتيا د كور په لوري بلنه دركوي. »** او زه ګواهي وركوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي وركوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او بركت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيكۍ سره د هغه تابعداري كوي.

**و بعد:**

سوله او يلامتيا يو انساني لوړ ارزښت دی چې زمونږ دين د هغه په ټينګښت باندي ټينګار كړی دی زمونږ دين د سولي او د سلامتيا دين دی زمونږ پيغمبر صل الله عليه وسلم د سولي نبي راغلي دی او همدارنګه زمونږ يو له بل سره ملاويدل هم په سولی باندی وي جنت د سولي كور دی او په جنت کې يوبل ته سلام اچول او د سولي پيغام وركول شته دی همدارنګه د ملايكو له لوري هم دويته سلامتيا او د سولي پيغام وركول كيږي الله جل جلاله فرمايی:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ»ژباړه:« اې مؤمنانو! تاسي په هر اړخيز ډول په اسلام كښې ننوځئ او د شيطان پيروي مه كوئ، چې هغه ستاسي ښكاره دښمن دی.» او بيا فرمايی:« لَهُمْ دَارُ السَّلَامِ عِنْدَ رَبِّهِمْ»ژباړه:« د هغوی لپاره د هغو له رب سره د سلامتيا كور دی» او بيا فرمايی:« وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ»او بيا فرمايی:« وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ * سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ» ژباړه:« ملايكي به له هري خوا څخه د هغو د هركلي لپاره راشي. او هغو ته به وايي:

"پر تاسي سلامتیا ده، څنګه چي تاسي په دنیا کښي له صبر څخه کار واخیست؛ د هغه په برکت نن تاسي ددې وړ ګرځېدلي یاست."- نو څه ښه دی، دغه د اخرت کور!».
دا چي په اسلام کې د سولي ځاي ډېر لوړ دی نو د همدي لپآره زمونږ رب خپل ځان ته د السلامِ نوم غوره کړی دی لکه چې الله جل جلاله فرمایی:« هُوَ اللهُ الَّذِي لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ» ژباړه:« الله هغه ذات دی چي له هغه پرته کوم هیڅ معبود بر حق نشته. هغه باچا، ډېر پاک، له ټولو عیبونو څخه سالم، امان ورکوونکی، ساتونکی، په ټولو برلاسی، په زوره د خپل حُکم نافذوونکی، د لویی څښتن او لویي کوونکی دی؛ الله (ج) له هغه شرك څخه پاك دی چي خلك یې کوي.» او زمونږ د پیغمبر صل الله علیه وسلم د دعاګانو د جملي څخه چې د هر لمانځه څخه وروسته به یې کوله دغه دعاء به یی کوله:( **اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ، وَمِنْكَ السَّلاَمُ، تَبَارَكْتَ يا ذَا الْجَلاَلِ وَالإِكْرَام).**
په اسلام کې د سولي کلمه بشپړه کلمه ده او حقیقي مسلمان هغه څوک دی چې د خپل ځان سره زغم ولري همدارنګه په واقعیت کې د خپل کورني د خپل خپلوانو ګاونډیانو سره په سوله او سلامتیا کې ژ،ند وکړي بلکي د ټولو خلکو سره په سوله او سلامتیا کې ژوند وکړي پیغمبر صل الله علیه وسلم فرمایلي دي کامل مسلمان هغه څوک دی چې نور خلک د هغه د ژبي لاس څخه په امان کې وي همدارنګه نبي کریم صل الله علیه وسلم فرمایلي دي: زما د په الله قسم وي مسلمان ندی او دا یی دری ځل وویل ورته وویل شو چې د الله رسوله دا څوک دی هغه وفرمایل: هغه چې د هغه ګاونډیان د هغه د زیان څخه په امان کې نه وي او کله چې د پیغمبر صل الله علیه وسلم څخه د هغه ښځي په هکله پوښتنه وشوه چې هغه روژه هم نیسي او لمونځ هم کوي خو خپلو ګاونډیانو ته زیان رسوي هغه که په ژبي سره وي او که په نورو سره وي نو پیغمبر صل الله علیه وسلم

وفرمایل: چې په هغه کې خیر او ښیګڼه نشته او هغه به د دوزخ د خاوندانو څخه وي.
خو مونږ بیا هم ټینګار پدي باندي کوو چې دغه سوله تر هغه وخته پوری نه بشپړیږي ترڅو چې پاک نیت ونلرو نفسونه مو پاک نه وي ترڅو ایماني قواعد ورسره وي او همدارنګه انساني ارزښتونه په هغه پوری وتړل شي چې لدي جملي څخه مهمي په لاندي ډول دي: چې انسان باید یو مخ ولري په ښکاره او په پټ داسی نه وي چې دوه مخه وي پداسی ډول سره چې یو ته یو سه ووایی او بل ته بل سه ووایی نبي کریم صل الله علیه وسلم فرمایلي دي: په خلکو کې ډیر د شر خاوند هغه څوک دی چې هغه دومخه وي چې یو ته راځي یو څه وایی او بل ته ورځي بل څه وایی.
همدارنګه ددی جملي څخه بل هم دا دي چې انسان باید خیر او د ښیګڼي لپآره کار وکړي او دا باید د ټول اړخونه په نظر کې ونیسي د رحم والا وي همدارنګه مینه او محبت باید ولري همدارنګه اسانتیا باید ولري لکه چې نبي کریم صل الله علیه وسلم فرمایلي دي: کامل مسلمان په تاسو کې ترهغه پوري څوک نشي جوړیدل دی ترڅو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپآره خوښوي همدارنګه باید د خیر او د ښیګڼې لپآره یوه کلي انسان ځان جوړ کړي ترڅو شر پری لمنځه یوسي پیغمبر صل الله علیه وسلم فرمایلي دي : په خلکو کې داسی څوک شته چې هغوي د خیرات او ښیګڼو کلیګاني دی او د شر قلفونه دي او ځیني خلک داسی دی چې د شر کلي ګاني او د خیر قلفونه دي نو خوښي او کامیابي دي وي د هغه چا لپاره چې د خیر او د ښیګڼي کلي ګاني یی پخپل لاس کې نیولی دي او هلاکت د وي په هغه چا لپآره چې د شر کلي ګاني یی پخپل لاس کې نیولي دي.
همدارنګه لدي جملي څخه بل هم دادی چې انسان باید هڅه وکړي ترڅو بل انسان ته زیان ونه رسوي ترڅو هغه هم په امن او استقرار کې ژوند

وکړي الله جل جلاله خلک ډول ډول پیدا کړي لکه چې فرمایی:**« وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَنْ فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا أَفَأَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّى يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ» ژباړه:« که ستا د رب اراده دا وای (چې په ځمکه کښې دي ټول خلک مؤمنان او حکم منونکي اوسي)، نو د ځمکي ټولو اوسېدونکو به ایمان راوړی وای. نو ایا ته خلك مجبور وې چې ایمان راوړي؟»**
همدارنګه باید دا هم په نظر کې ونیسو چې ځیني ګډ انساني ارزښتونه شته چې ټول اسماني ادیانو په هغه باندي اتفاق کړی دی چې باید هغه ته درناوي وکړو ترڅو اطمئنان برقراری او نفسي او ټولنیزه سوله د ټولو ترمنځ رامنځته شي.

*********

**ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.**
واقعیت کې حقیقي مسلمان هغه څوک دی چې په نړۍ کې په سولي سره ژوند وکړي حیوان ته هم زیان ونه رسوي نباتات ونه سوزوي بوټي او میوه داره وني لمنځه یونسی بلکي هغه باید نوری بوټي وکری او جوړښت رامنځته کړي خیر او ښیګڼه خلکو ته ورسوي نه دا چې چاته شر ورسوي جوړښت وکړي نه دا چې لمنځه یوسي همدارنګه ابادي رامنځته کړي نه دا چې خرابي راولوي او همدارنګه په ځمکه کې باید فساد رانه ولي زمونږ پیغمبر صل الله علیه وسلم دغه ډول سولي لپاره بنسټیز قواعد ایښي دي هغه د ټولي نړۍ لپآره رحمت وو الله جل جلاله فرمایی :« وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ»ژباړه:« [اې محمده (ص)!] موږ چي ته لیږلی یې، دا په اصل کښي د نړیوالو په باب زموږ رحمت دی. (موږ د ټولو مخلوقاتو لپاره ته رحمت لیږلی یې.)» همدارنګه دا ددی

څخه هم څرګندیږي کله چې پیغمبر صل الله علیه وسلم د انصارو یوي باغیچي ته داخل شو چې په هغه کې یو اوښ وو هرکله چې اوښ یی ولیدو چې سترګي راوتلي وی نو پیغمبر صل الله علیه سلم ورته راغي او د هغه په سر یی لاس راکش کړو نو هغه غلی شو نو پیغمبر صل الله علیه وسلم وفرمایل: چې ددي اوښ خاوند څوک دي؟ یو ځوان د انصارو څخه راغي او وی ویل چې دا زما دی ای د الله رسوله نو پیغمبر صل الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ته د الله څخه پدغه حیوان کې چې تاته یی درکړی نه ویریږي؟ ځکه چې هغه شکایت کولو چې ته هغه ته زیان رسوي او خواړه ورته نه ورکوي.

نو څومره ښه خبره ده چې انسان باید په سوله کې د خپل ځان سره او د خپأي کورني سره او د خپلو ګاونډیانو خپلو ملګرو او د ټولني ټولو افرادو سره په سوله کې ژوند وکړي بلکي د نړی ټولو خلکو سره باید انسان په سوله کې ژوند وکړي.

**ای الله مونږ د سولي د خاوندانو څخه وګرځوي او پخپل رحمت سره مونږ جنت ته داخل کړي چې د سولي کور دی**